المملكة العربية السعودية
وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد
المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بغرب الديرة

# دنبحو دمالي حقوقو متعلق مهم تنبيهات

تصنيف

حافظ نور أحمد دين سلارزي

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بغرب الديرة
هاتف ٤٣٩١٩٤٢٠ ناسوخ ٤٣٩١٨٥٠ ص.ب ١٥٤٤٨٨ الرياض ١١٧٣٦
حساب رقم ٠٩٢٤٠٠ شركة الراجحي المصرفية فرع سلطانة

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښځو دمالي حقوقو

(البشتو)

متعلق

# مهم تنبيهات

تصنيف

حافظ نور أحمد دين سلارزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ح مكتب توعية الجاليات بغرب الديرة ، ١٤٢٣هـ

*فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر*

سلارزي ، حافظ نور أحمد دين

التنبيهات المهمة في حقوق النساء / حافظ نور أحمد دين

...ص . ...سم

ردمك : ١ ــ ٣ ــ ٩٣٩٧ ــ ٩٩٦٠

( النص باللغة البشتو )

١ ــ المرأة في الإسلام أ ــ العنوان

ديوي ٢١٩,١ ١٤٢٣/٦١٩٧

رقم الإيداع : ١٤٢٣/٦١٩٧

ردمك : ١ ــ ٣ ــ ٩٣٩٧ ــ ٩٩٦٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على نبينا محمد وعلى أله وصحبه أجمعين .وبعد:**

په عامو مسلما نانوکښې او خاص په پښتنو کښې چه د پخوانۍ کفری زمانی نه کوم عا دات پاتی دی اوهم هغسی چلیږی دهغوی نه یو ښځو ته میراث او نور مالی حقوق لکه مهر وغیره نه ورکول دی-او دا کفری عادات دومره عام شوی دی چه اوس یې ځوك دسره ګناه نه حسابه وی او دا یې خیال هم نه وی چه ما یا زما پلار نیکه د چا حق قبضه کړے دے نو په دی مختصر مضمون کښې دی موضوع ته کتنه شوی ده او دقرآن کریم او د حد یثو په رنړاکی ددی خطر ښکاره کړے شوے دے ددی سره سره ځنی نورهغه ظالمانه عادات هم بیان شوی دی کوم چه اکثر دښځوسره تعلق لری. الله تعالی د مونږته توفیق راکړی چه مونږ پری خپل ځان پوهه کړواودهرقسم حرامونه خپل ځان وساتو.

نور احمد دین سلارزی

ریاض سعودی عربستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دحرامو نه ځان ساتل

**عن أبي هريره رضی‌الله عنه قال :قالَ رسول الله صلـــی‌الله عليـــه وســـلم:إ ن الله طيـــب لا يقبـــل إلاطيبـــــاً،وإن الله أمر المؤمنين بما أمربه المرسلين،فقال:((يا أيهاالرُسُل كلوا من الطيبات و اعملوا صالحاًإني بما تعملون عليم))**

**(( وقال.ياأيهاالذين أمنوا كُلوا من طيبات مارزقناكم))**

**(ثـــمَ ذكرالرجـــل يطيـــل السفراشـــعث أغـــبريمد يديـــــه إلی‌السماء:يارب يارب َ:ومطعمه حرام،ومشربه حرام،وملبسه حرام،وغذئ بالحرام،فأنی يستجاب له)** رواه مسلم:

دابوهريره رضی‌الله عنه نه روايت دے ، فرمايئ چه رسول الله صلی‌الله عليه وسلم فرمائيلی دی- يقيناً الله تعالی پاك دےاو صرف هم پاك شے قبلوی، اوالله تعالی مؤمنانوته دهغه څه امركړےكوم يئ چه پيغمبرانو ته كړےدے، نو پيغمبرانو ته يئ فرمائيلی دی :

اےپيغمبرانو دپاك رزق نه خوراك كوئ او نيك عمل كوئ پيشكه ځه پوهه يم په هغه څه چه تاسی يئ كوئ : اوفرمائيلی يئ دی:

اے مؤمنانو خوريئ دپاك هغه څه نه چه مونږ درله رزق دركړے دے ،بيا پيغمبر ديو سړی ذكرا وكړو چه هغه يو لری مسا فر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی، ببرسرے گرد الوده وی ،لاسونه يې آسمان ته اوچت کړی وی،وايي اے ربه ، اے ربه، يعنی بنه په عاجزۍ سوال کوی خو حال يې دا وی چه خوراك يې حرام وی څښاك يې حرام وی لباس يې د حرامو وی،او په حرامو لويي شوے وی نو څه رنګه به دهغی سوال قبول کړے شی .

د دی حديث نه معلومه شوه چه د سوال دقبليدو دپاره يو بنيادی شرط دخوراك حلالوالے دے ، ملاعلی قاری په مرقات کښی فرمايلی دی

( للدعاء جناحان اكل الحلال وصدق المقال)

( المرقات ج٥ ص ١٨٩٠) ددعا دپاره دوه وزرے دی، يو حلال خوراك اوبل رښتيا وينا-

دبعضی اهل علمو نه نقل شوي دی چه شيطان وايي :

(خصلة واحدة أريدها من ابن ادم ثم أخلی بينه وبين ماليريد من العبادة،اجعل كسبه من غيرحل ان تزوج،تزوج من حرام وان افطر افطرعلی حرام،وان حج حج علی حرام.

ترجمه: چه څه دبنیآدم نه صرف يو خويي غواړم او بيا هغه پريږدم هر هغه عبادت ته چه هغه يې غواړی ،څه د دے رزق اوکسب د حرامو نه کوم نو چه کله بيا واده کوی هغه به د حرامو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وی که روژه ماتوی هغه به په حرامو وی،او که حج کوی نو په حرامو به یئ کوی

**( إرشاد العباد لإستعداد يوم المعاد ص ۱۱۷ )**

**همداراز په معجم الصغيرد طبراني** کښې دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پا څیدو او ورته یئ اووئیل- د الله نه سوال وکړه چه ما سوال قبلونکے جوړ کړی، نو هغه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل :

**يا سعد أطب طعامك تكن مستجاب الدعوة والذي نفس محمد بيد ه إن العبد ليقذف اللقمة الحرام في جوفه ما يتقبل منه عمل أربعين يوما وأ يما عبد نبت لحمه من سحت فاالنار أولى به:**

اے سعد خوراك دے پاك كړه نو دعا به دی قبليږی ،په هغه ذات دزما قسم وی چه دمحمد روح دهغه په لاس کښی دے یقیناً کله چه یو بنده یوه نمړئ دحرامو خپلی بنیټی ته اوغورزوی نو ددی دڅلویښتو ورځو نیك عمل نه قبليږی ، او دکوم بنده غوښه چه په حرامو غټه شوی وه د هغی لپاره صرف اور مستحق دے .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی احادیثونه معلومه شوه چه د اخرت دخلاصی لپاره دنورو نیکو اعمالو سره سره دحرامو نه بچ کیدل او ځان ساتل هم ضروری دی ،لکه چه هم داسی یو مضمون دابوهریره رضي الله عنه په حدیث کی راغلے هغه فرمائ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایئل

**(أتدرون من المفلس؟) قالوا: المفلس فينا من لا درهم له ولا متاع فقال: (إن المفلس من أمتي من يأ تى يوم القيامة بصلاةٍ وصيامٍ وزكاةٍ،ويأتى وقد شتمَ هذا،وقذفَ هذا، وأكلَ مالَ هذا،وسفكَ دمَ هذا،وضربَ هذا،فيعطى هذامن حسناته،وهذامن حسناتهِ فإن فنيت حسناته قبلَ أن يقضى ماعليه، أخذ من خطاياهم فطرحت عليه ثم طرح فىالنار) (رواه مسلم)**

ترجمه: اياتاسی پوهیږۍ چه مفلس څه ته وائي؟ اصحابوعرض وکړو چه په مونږ کی خو مفلس هغه څوك وی‌چه نه ورسره څه نقدی پیسی وی او نه څه سامان وی،پیغمبر ورته اوفرمایئل.ځما په امت کی اصلی مفلس هغه څوك دے چه دقیامت په ورځ د ځان سره [ډیر] لمونځونه روژی او زکاتونه راوړی لیکن په داسی‌حال کی چه دنیا کی یئ یو چاته کنځل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی وی، په چا یې تهمت لګولی وی، دچا یې مال خوړلی وی، دچایې وینه توی کړی وی، څوك یې وهلی وی، نودی یو له به د دی دنیکو نه ورکړے شی، او هغه بل له به تری هم د دی دنیکو نه ورکړے شی، او که چرته ختم شی نیکۍ د دی، مخکی د فیصلی کولو نه په دی باندی نو د دغه خلقو [مظلومینو] ګناهونه به راواغستل شی اوپه دی سړی به او غورزول شی او بیا به جهنم ته ګذار کړے شی.

## په اولاد کښی عدل نه کول

اکثرخلق په خپل ژوند کښی خپل مال دولت تقسیموی لیکن دا د خپل طبیعت او رواج مطابق ورکوی چه لو نړو ته خو بالکل هیڅ نه ورکوی او په ځامنو کښی چه دکوم یو نه خفه وی هغه هم ددی نه محروموی دا قسم کار ناروا او ظلم دے ځکه چه الله تعالی فرمايئ:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوا۟ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ ۚ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا

(c) ketabton.com: The Digital Library

فَٱللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا ﴾ (النساء ۱۳۵)

ترجمه- اے موٴمنانو شئ مظبوط ودریدونکی په انصاف سره صرف د الله لپاره بیانَوُنکی جوړشيئ اګر که [دابیان]ستاسو په نقصان کښې وی یا د مور پلار او یا د خپلوانو، که وی هغه غني یا فقیر نو الله پرے ډیر مهربانه دے.

په دے ایت کښې الله تعالی موٴمنانوته دا هدایت اوکړوچه هروخت به د انصاف او عدل نه کاراخلی-اګرکه دا خطره وی چه د انصاف کو لو په صورت به تاسو ته یا نورو ته نقصان ورسیږی ،ځکه چه چاته د نقصان رسیدلوخطره ده په هغې باندی الله تعالی ستاسی نه ډیر مهربانه دے نوهغه به ورله دبل ځایئ نه عوض ورکړی. همدارازپه بخاری مسلم کښې دنعمان بن بشیررضی الله عنه نه حدیث دے هغه فرمائي چه زما پلارما ته څه برخه دخپل مال نه راکړه نو زما مور عمره بنت رواحه ورته اووئیل: ترهغه پورے نه راضی کیږم ترڅو چه په دے باندے رسول الله صلی الله علیه وسلم ګواه مقررنه کړے نوزماپلارپیغمبرصلی الله علیه وسلم ته راغے چه ځمالپار ه یئ په راکړل شوی مال

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندی گواه مقررکړی، نوپیغمبرعلیه الصلاه والسلام ورته اوفرمائیل: **أكل ولدك نحلت مثله؟**
ایا تا ټولو بچوته هم داسی ورکړی دی؟
نوزماپلارورته اووئیل چه نه، نوپیغمبرورته اوفرمائیل
**(فإني لا أ شهد على جــور)** څه په ظلم گواهی نه کوم. یعنی نورپریخود ل اویوځويْ له دخپل مال نه څه ورکول دا ظلم دے اوپه داسی ظلم څه گواهی نه کوم، بیا يئ په اخرکښی اوفرمائیل **(اِتَّقُوُاللهَ وَاعدِلوُا في أولادِكُـم)** دالله نه ویریږئ اوپه خپل اولاد کښې عدل اوانصاف وکړئ، نعمان وايئ چه دپیغمبرددی زورنی نه روسته زماپلارزمانه هغه مال بیرته واخستلو ( بخاری۲۵۸۶ )
نود رسول الله صلی الله علیه وسلم ددی حکم نه معلومه شوه چه که اولاد هلکان وی اوکه جینکيْ دهغوی ترمینځه عدل اوانصاف ددولت په تقسیم او علاوه نورو معاملاتوکښی فرض اوضروری دے. قرطبی دامام طاؤوس په باره کښې لیکلی دی چه کله به هغی ته دیو سړی په باره کښې اووئیل شو هغه په خپلو بچوکښی فرق کوی اویوپه بل غوره کوی نوهغی به ورته فرمائیل
**( أفحكم الجاهليّة يبغــون)** ایاداخلق دکفردزمانی حکمونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

عادتونه لتهوی؟ نوطاؤوس رحمه الله به ویئل چه چا له دا جائزنه دی چه په خپل اولاد کښ فرق اوکړی اوکه داسی یئ اوکړه نو دهغه دا کاربه نه نافذ کیږی ، (القرطبی ج ۶ ص۲۰۲)

## بی انصافه وصیت کول،،

ډیرځل دپښتنوپه نظام کښ چه کله دیو سړی دمرګ وخت رانژدے شی هغه په دغه وخت کښی دخپل مال اودولت په باره کی وصیت کوی چه دهغی په زریعه ترینه خپلی خوینددے اولونړه مکملی دمیراث نه محرومی کړی اوپه نتیجه کښ ددی سړی دا اخری عمل دظلم اوزیاتی یوه مجموعه شی.

اول خوپه دی دټولو علماو اتفاق دے چه یو مسلمان کله په خپل مال دولت کښ د پسماندګانودپاره وصیت کوی نوداوصیت صرف په دریمه برخه کښ صحیح دے ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**(إنّ الله قد أعطی کل ذي حق حقه ألا لا وصیة لو ارث)**

(ابوداؤد)

بیشکه الله هریو حقدارته دهغه حق ورکړے دے نود وارث دپاره وصیت نشته،، ددے حدیث نه خو مطلق وصیت نه کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومیږی لیکن دسعدبن ابي وقاص رضی الله عنه په حدیث کی راغلی چه پیغمبر هغه ته فرمایلی وو

**(فالثلث والثلث کثیر ) (بخاری،مسلم)**

ددریمی برخی وصیت اوکړه اوداغوره دے . په دے اساس علماؤ ویلی دی چه که یو سړی دمرګ په وخت کښې دخپل دولت دتقسیمولو غلط وصیت وکړواو وارثانو ته یې دهغوی حصه ورنه کړه لکه لونړه اوخوئندے نودغه وصیت بالکل باطل دے او دهغه دمرګ نه وروستو هغوی ته دا حق حاصل دے چه د خپل حق لپاره دعوه اوکړی او حاصل یې کړی ((فقه السُنَه، ج۴ص **۳۷۵**)) . دا خو ددنیاوي قضاوت او فیصلی خبره ده اوس دا چه دهغه سړی د قران اوحدیث په رنړاکښې څه سزاده کوم ثوك چه دادظلم وصیت کوی اوخوئندو لونړوته پکښې برخه نه ورکوی،چا چه دا د ظلم وصیت کړے دے ددی متعلق الله فرمایي !

﴿ غَيْرَ مُضَآرٍّ وَصِيَّةً مِّنَ ٱللَّهِ ﴾النساء ۱۲۰ )الاية

ترجمه:نه به وی دا وصیت کونکے ضرر رسونکے چاته په دے وصیت سره ، او دادالله تعالی یومضبوط حکم دے وصیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کونکی ته. عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمایئ
**( ألإضرار بالوصية مِنَ الكَبَائر )(القرطبی ج٥، ٦ص ٧٨ )**
د وصیت په ذریعه چا ته ضرر رسول دا دغتهو گناهونونه دی
او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی
**( إن الرجل ليعمل بعمل أهل الخير سبعين سنة فإذا أوصى جاف في وصيته فيختِم له بشر عمله فيدخل النار وإن الرجل ليعمل بعمل أهلِ الشر سبعينَ سنَة فيعدل في وصيته فيختم له بخير عمله فيدخل الجنة) ( ابوداوؤد، ترمذی )**
ترجمه: ډیر څله یو سړے اویا کاله دښو خلقو عمل کوی لیکن کله چه ( دمرگ په وخت کی) وصیت کوی نو په هغی کی ظلم اوکړی(یعنی بعضی ځامنو یا لونړو ته میراث ورنه کړی) نو ددےسړی خاتمه په شراوناکاره کاراولیکل شی اودهغی په اساس اور ته داخل کړے شی،اوبل سړي اویاکاله دناکاره خلقوعمل کړے وی‌لیکن دوصیت کولوپه وخت کی عدل او انصاف اوکړی
( حقدار ته خپل حق ورکړی ) نو ددیخاتمه په ښه او نیك عمل ولیکل شی اوپه نتیجه کی دا جنت ته داخل کړےشی- ددی قراني ایت اوحدیث نه مونږته دبی انصافه وصیت سزاء معلومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه نوپه دی اساس مسلمان له پکاردی چه کله په خپل ژوند کښ خپل مال اودولت تقسیموی په هغی کښ دعدل او انصاف نه کار واخلی او لونړوته پکښ هم خپله برخه ورکړی ځکه چه دمرګ نه روسته د دی صرف نیك عمل پکار راځی او عدل او انصاف دنیکو اعمالو یو اعلی قسم دے.

## دمیراث په تقسیم کی زنانَوته میراث نه ورکول ،

دکفرپه زمانه کی دارواج او قاعده وه چه میراث به صرف متهو ر نارینه ته ورکړل کیده او وئیلے به شو چه:

**(لا یعطی( المیراث) إلا من قاتل علی ظهور الخیل وطاعن بالرمح،وضارب بالسیف)** (الدر المنثور، ۲.ص ۲۱۷ عن ابن عباس) **ترجمه** . میراث به صرف هغه چا ته ورکول کیږی چه د اسونو په شاګا نو جنګ کوی، په نیزو ګذارونه کوی، اوپه توره وهل کوی- که دنن زمانی احوال اورواجونه اوګورو نودا هم ددغه کفری عاداتو نه څه لری نه دی په اوسنی زمانه کی چه د پښتنو په تولنه کښ کله پلار مړشی نو بعضی ورونړه خوبالکل خوئندے دسره خبروی هم نه اوپه خپلو کی دپلارمیراث تقسیموی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بعضې نورورله څه چل اوحیله جوړه وی خوئندے را اوغواړی اودهغوی نه تپوس کوی چه تاسی زمونږ نه حق غواړئ اوکه نه ؟ خوکه چرته یئ ترینه هغه اوغواړی اوڅه جرأت اوکړی اودخپل حق مطالبه اوکړی نوهغه بیا ټول عمردپلار او وروڼړو په کوربنده وی ،نومجبوراً اکثره زنانه دخپل حق مطالبه نه کوی اګر که په خپله ډیرے مجبوره وی ،

داټول ظلم او حرام کاردے چه زمونږ په معاشره کښې عام شوے دے اودے حدته رسیدلے دے چه څوك یئ دسره ګناه نه حسابوی په داسی حال کی چه دقرآن ښکاره ایت مونږته وایئ

﴿ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿٧﴾ ﴾(النساء ٠٠٧)

ترجمه: دسړودپاره [مقرره] حصه ده دهغه څه نه چه مور پلار اوخپلوانو په میراث کښې پریښودلی وی اودښځو دپاره هم مقرره حصه ده دهغه څه نه چه مور پلار اوخپلوانو پریښودلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی، دهغه څه نه چه کم وی ددغه نه او که ډیر وی دا یو مقررشوے برخه ده . اورسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایئ

**(أحرِّج مال الضعيفين ألمرأة واليتيم (صحيح ابن حبان)**

حکم درته کوم چه ددوؤکمزورو مال ته به نه نژدی کیږئ چه هغه زنانه او یتیم دے او دا ځکه چه د دوی د الله تعالی نه بغیر بل څوك دتپوس نه وی او دوی په خپله دخپل حق تپوس نه شی کولے نو ځکه پیغمبر علیه الصلاه والسلام ددوی ځانګړی یادَونه وکړه- په یو بل حدیث کښی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایئ

**( أيما رجل ظلمَ شبراً من الأرض ،كلفه الله عَزّ وَجَل أن يحفره به سبع أرضين،ثم يطوقه يوم القِيامة حتَى يقضى بين النّاس) ( مسند احمد،طبراني،صحيح الترغيب ١٨٦٨)**

کوم یو سړی دیوی لویشت په مقدار په ظلم دچا زمکه ونیوله الله به یئ مجبوره کړی چه دااوکنی تر اوه زمکوپورے لاندے ، اوبیابه ورته داتوله وریغاړه کړی په ورځ دقیامت، تردے چه دخلقو په مینځ کی فیصله وشی.مسلمانه وروره دا هغه وعیدونه اواختارونه دی چه ښځوته دمیراث نه ورکونکو متعلق راغلی دی اوس ته د ځان سره فکر وکړه چه ته دکومی زمکے نه غله او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانے خورے ایا په دے کښې ستاسره ستا د خوئندو حق شته او که نه؟ یاداچه ستا پلار چه کله تاته په میراث کښې پریخودله نو دهغه سره پکښې دکومے زنانه حق وو او که نه؟ دا دوه داسے اهم تپوسونه دی چه ډیر لګ خلق به ددے په نفی کښې جواب ورکړی او په مال دولت کښې به ورسره دچا برخه نه وی پاتی شوے، او د اکثرو خلقو دا حال دے چه په زمکه کښې به ورسره ضرور دخوئندو یا دپلار دخوئندو حصه موجوده وی ،لیکن دا مسلمان به ځان دجنت ټهیکدار حسابوی اودا د بل چا مال خوړل به ورته دسره ګناه نه ښکاری !! لهذا په هر مسلمان لازم دی چه هر حقدار ته د هغه حق ورکړی د دی دپاره چه داخرت په هغه سخته ورځ کښې پیا رسوا او مخ تورن نه شی ، په هغه ورځ نه بیا مال پکاریږی او نه اولاد ،اونه خپله ښځه،((یوم لا ینفع مالٌ ولا بنون إلاّ من أتی الله بقلبٍ سلیم)) (الشعراء۸۹) ترجمه: په دغه ورځ به مال اوځامن نفع نه رسوی مګر هغه چاته چه په روغ زړه الله تعالی ته راغلے وی. همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی (( إنّ من شر النّاس منزله عندالله یوم القیامة عبد اذهب أخرته بدنیا غیره)) (ابن ماجه عن أسامة ابن زید) بیشکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقیامت په ورځ به دالله تعالی په نزد بدترین مقام دهغه بنده وی چه خپل اخرت یې دبل چا د دنیا دپاره برباد کړے وی. نو هسے نه چه ته هم دخپل اولاد دپاره خپل اخرت تباه کړے.

## مهرنه ورکول

دمهر په معامله کی هم دښځې سره له هری خوا زیاتے کیږی . په اکثرو علاقو کی دارواج وی چه د جینۍ سرپرست او د هلك دکور خلق په یو خاصو روپو باندی متفق شی هغه ترینه واخلی اوبیاچه کله دنکاح ترلو وخت راشی نوبیا په مهر کی زمکه مقررکړی اویاد (مهر فاطمه) په نوم نورنوے مهر مقرر کړی او هغه مخکنۍ روپۍ ترینه دجینۍ پلار یا ورور ځان له واخلی او دے له تری هیڅ نه ورکوی او حال دا چه الله تعالی فرمایې .

﴿ وَءَاتُواْ ٱلنِّسَآءَ صَدُقَٰتِهِنَّ نِحۡلَةً ﴾الا یة(النساء ٠٠٤)

ترجمه: ښځو له دهغوی مهرونه ښه په خوشحالي سره ورکړي.

اوداحکم پلار اوخاوند دواړوته دے اوبل طرف ته ورله

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوند هغه زمکه تش په نوم په مهر کی مقررکړی وی اوبیا یې ورله نه ورکوی لهذادد ے غریبی سره دهر طرف نه زیاتے وشی . اول خودا روپيۍ که دمهرپه نوم وی یادبل څه په نوم داصرف ددی جینيۍ حق دے په پلارلازم دی چه داهغی له ورکړی ،ددی خوړل حرام دی،ځکه کله چه څوك یوه خور یالور غټه کړی اوبیایې په ښه اسلامی طریقه سره واده کړی دهغی متعلق رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې

( من كان له ثلاث بنات أوثلاث أخوات أوبنتان أوأختان فأدبهن وأحسن إليهن وزوجهن ، فله الجنّة)
(ابوداؤد،صحيح الترغيب للالباني رقم ١٩٧٣)

دچاچه دری لونړه یادری خوئندی یایې دوه لونړه یادوه خوئندی وي اوهغوی ته یې ښه ادب او ښوده اوښه یې ورسره اوکړه اوبیا یې چا ته په نکاح ورکړے ،نو ددی سړی لپاره جنت دے- اوپه یو بل روایت کی راغلی

( من عال جاريتين حتى تبلغا ، جاء يوم القيامة أنا وهوكهاتين) (وضم أصابعه ) (رواه مسلم )

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاچه ددوؤجینکو سرپرستی او تربیت اوکړو تر دی چه هغه لوي شوی نودا به په قیامت کښې زماسره داسې وی [په دی وخت] پیغمبرصلی الله علیه وسلم ګوتی یو ځاي کړی - یعنی زما سره به په جنت کی یو ځایئ اوسیږی،

ددی په شان نورډیر احادیث دی چه دهغوی نه معلومیږی چه څوك ددوؤ جینکو ښه تربیت اوکړی اوبیا یئ په شرعی طریقی سره چا ته واده کړی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایئ چه زماسره به ددوؤ ګوتو په شان یو ځاي په جنت کی اوسیږی ،

لیکن افسوس چه دنن وخت مسلمانانو په یو څو روپو دا عظیم اجر اوثواب شاته غورزولے دے اولږه دنیا یئ اسره کړی ده،نو پلاریاورور له داجائزنه دی چه خپله لور یا خور دغوا اوبزے په شان خرڅه کړی بلکه شرعی طریقه داده چه دجینيئ دورکولو په وخت او دمهر معلومولو په وخت دهغې نه تپوس وشی،او دهغې په مشوره دنکاح انتخاب وشی او مهر مقرر کړے شی،او دمهر د اخیستلو نه روسته هغه ټول هم دغه جینيئ ته حواله کړے شی بیا د هغې خپله خوښه ده چه پلار لره یئ ورکوی یا خاوند له اویایئ دخپل ځان سره ساتی . پاتی شو هغه خاوند چه دنکاح په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کښې ښځې له په مهرکې زمکه، روپۍ ، یاسره زرمقررکړی
او بیا یې ورله نه ورکوی نو دغه سړی خویو د دی ایت مخالفت
اوکړوپه کوم کې چه الله تعالی ښځو له دمهر ورکولو حکم کړے
دے اوبل طرف ته رسول الله صلی الله علیه وسلم د داسې سړی
متعلق فرمائلی دی

**( أیمارجُل تزَوج إمرأةًعلی ما قل من المهر أو کثر، لیس في نفسه أن یؤدي إلیها حقها ،خدعها فمات ولم یؤد إلیها حقها ، لقي الله یوم القیامة وهو زان ) (الطبرانيُ صحیح الترغیب للالباني)** (١٨٠٧)کوم یو سړی چه په لګ یا ډیر مهر
یوه ښځه په نکاح واغستله او په زړه کې یې ددی مهر ادا کولو
نیت نه وو ، او دهوکه یې ورسره کوله ، تردی چه دا سړے مړشو
او ددی ښځې دغه حق یې نه وو اداکړے ، نوداسړے به ورځ په
قیامت الله تعالی ته دیو زناکار په صفت کې پیش کیږی.

## دښځو بدلول

یودهغه غلطو اوجاهلی رواجونو نه چه په مسلمانانو کې اوخاص
په پښتنوکې عام شوے دے هغه دښځوبدل دے،
او هغه دا چه یوسړے دبل سره دا لوظ اومعاهده اوکړی چه څه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله لوریاخور ستاځوئ یاورورله درکوم په دے شرط چه ته به خپله لور یاخور زما ځوئ له راکوے یاد دے په مثال نور صورتونه، داکاردشریعت مکمل خلاف دے

ځکه چه په بخاری او مسلم ،کښ دعبدالله ابن عمر رضی الله عنهمانه حدیث نقل دے هغه فرمایئ ، چه

(**نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن الشغار**):

ترجمه: پیغمبر دښځودبدلون نه منع کړے ده. امام نووی فرمایئ: اجمع العلماء علی انه منهی عنه،ټول علماء په دی متفق دی چه دا قسم نکاح ناجائز دےاو منع ترینه شوے ده.او په دی کښ بعضی خلق دمخکښ نه په بدل معاهده اوکړی لیکن دنکاح ترلو په وخت کښ هرے یوے جینئ له یو څه مهر مقرر کړی، اول خو ددے متعلق په سنن ابوداؤد کښ حدیث راغلے چه: ان **العباس ابن عبدالله ابن عباس انکح عبدالرحمن ابن الحکم ابنته وانکحه عبدالرحمن بنته وکانا جعلا صداقاً. فکتب معاویة إالی مروان یأمره بالتفریق بینهما وقال فی کتابه لهذا الشغارالذی نهیعنه رسول الله صلی الله علیه وسلم.**

**ترجمه**: عباس بن عبدالله بن عباس او عبدالرحمن بن حکم یوبل له خپلے لونړه په نکاح ورکړے اوهر یو ورله مستقل مهر هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقرر کړے وو، نو معاویه رضی الله عنه مروان بن حکم(د مدینے والی) ته خط راولیږلو او حکم یې ورته پکښې کړے وو چه د دغو نکاح ګانو جدائي راولی فسخ یې کړی او ورته یې وئیلی وو چه دا خو هم هغه شغار (بدل ) دے دکوم نه چه پیغمبر منع کړے ده، دویم دا صرف هسی حیله او اسلام سره چل ول دے ځکه چه اصلی اتفاق په بدل شوے وی او دا وروسته مهر مقررول دشرعی حکم حُلیه او شکل بدلول مقصد وی .البته دلته به یو سوال دچا ذهن ته راځی او هغه دا چه دشغار تعریف او وضاحت په اکثرو احادیثو کښې داسے شوے دے.((ولیس بینهما صداق)) یعنی دکوم بدلون نه چه پیغمبر منع کړه هغه خو هغه بدلون دے چه په هغے کښې د دواړو جینکو مهر نه وی مقرر شوے. جواب دادے چه دا وضاحت دحدیث د راوی سالم له طرف نه شوے دے پیغمبر نه دے کړے او دمخکی ذکرشوی حدیث نه معلومیږی چه داسی قسم تعریف دبدل صحیح نه دے او دا راوی پکښې خطا شوے دے .بل ټولو خلقو ته معلومه ده چه ددے بدلون په نتیجه کښې بیا ددواړو جینکوسره څومره زیاتے کیږی، که د یوے سره خواخی یا سخرخلاف وی او جنګونه ورسره کوی نو د دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

جینې د پلار کورنی د دې بدل د هغه بلې جینې نه اخلي او په نتیجه کښې په دواړو خپل کورونه او ژوند ګډوډ او مصیبت شي،د دې بحث نه مونږ ته دا هم معلومه شوه چه په روغه جوړه او بدو کښې کومه جینۍ ورکول کیږي هغه هم یو ناروا اوحرام کار دې، ځکه چه هغه بیچاره دجوړې لپاره دغوا اوبزې په شانته ورکول کیږي او بیا چه په هغه کور کښې دهغې کوم بد حال وي هغه هم دچانه پټ نه دې !!.

لهذا مسلمان ته پکاردی چه کله دبدل اوهر یو کار دحرام والی نه خبر شي نودهغې نه ځان وساتي. په اخر کې دالله تعالی نه سوال کوؤ چه مونږ ته په قرآن اوپه سنت دعمل کولو توفیق راکړي اودحق تابعداری مونصیب کړي. انه ولي ذالك والقادر علیه -

اللهم ارنا الحق حقاً وارزقنا اتباعه وارناالباطل باطلاً وارزقنا اجتنابه ،

وصلى الله على نبينا محمد وآله وصحبه وسلم .

تم بعون الله تعالی

مساءَ لیله الجمعه ، ١٤٢٢ ١ ١ ١ ٢

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**